# د افغانستان د پرمختګ اپډېټ – اجرایي لنډیز

## وروستي اقتصادي بدلونونه او د راتلونکي لپاره لیدلوری

د افغانستان اقتصاد په منځنۍ کچه د ودې په حال کې دی، چې دغه پروسه په ټیټه کچه کې د تورم د نرخ د ثبات او د کورنیو عوایدو او مالیاتو د لوړېدو په پایله کې پیاوړې شوې ده. مګر په چټکۍ سره د نفوس زیاتېدل چې له ایران او پاکستان څخه د کډوالو بېرته را ستنېدل یې هم یو ځانګړی دلیل دی او کمزوري پانګه اچونه د سړي سر عاید د لوړېدو په برخه کې د خنډ لامل شوی دی. د لوی اقتصاد ثبات ساتل شوی دی، مګر د بهرنیو فشارونو زیاتېدل، مالي محدودیتونه او د بهرنیو تمویلي سرچینو نشتون د خطرونو د زیاتېدو لامل کېږي. بې وزلي او ټولنیزه بې ثباتي لا هم په پراخه کچه موجوده ده او وړاندوینه کېږي چې اقتصادي وده به په راتلونکي کې په منځنۍ کچه کې وي.

## وروستي اقتصادي فعالیت

**د افغانستان اقتصاد لا هم د بېلا بېلو هممهاله ټکانونو له امله تر فشار لاندې دی.** دغه هېواد په لنډه موده کې له یو لړ ناوړه پېښو سره مخ شو، لکه په پراخه کچه د کډوالو بېرته را ستنېدول، شدیده وچکالي، په ختیځو ولایتونو کې زلزله، د انټرنټي او مخابراتي خدمتونو[1] لنډمهاله بندېدل او په سیمه ییزو لومړیتوبونو کې بدلون چې هر یو له دې عواملو څخه موجوده بې ثباتي لا زیاتولای شي. دې ستونزو ته په کتو سره، وړاندوینه کېږي چې د افغانستان اقتصاد به په ۲۰۲۵ مالي کال کې ۴/۳ سلنه وده وکړي چې د دې ودې ستر لامل به توکو او خدماتو ته د بېرته را ستنېدونکو د تقاضا زیاتېدل وي، په ځانګړي توګه د خدمتونو او صنعت په برخه کې. د نفوس چټک ډېروالی (۸/۶ سلنه) چې ستر لامل یې له دوه میلیونه څخه ډېرو کډوالو بېرته را ستنېدل دي، د سړي سر داخلي ناخالص تولید په وده کې به ۴/۰ سلنه کموالی را منځته کړي. دا چې د پانګونې کچه کمه ده او کاري ځواک په چټک ډول زیاتېږي دا چاره د پانګې د کمښت او د سړي سر تولید د کچې را کمېدو لامل کېږي او په پایله کې د هېواد په اقتصاد کې له کمې ودې او د تولید د ټیټې کچې سره تعادل لا پیاوړی کوي.

**د تورم کچه لا هم ټیټه پاتې ده او ستر لامل یې د خوراکي توکو او اسعارو په بیو کې ثبات دی.** سره له دې چې هېواد ته د کډوالو په بېرته را ستنېدو سره د داخلي تقاضا کچه لوړه شوې ده، مګر بیا هم اټکل کېږي چې افغانستان به په ۲۰۲۵ مالي کال کې په سیمه کې د تورم تر ټولو ټیټه کچه ثبت کړي. د کلني تورم کچه په اګست میاشت کې یو څه لوړه شوې ده او ۳/۱ سلنې ته رسېدلې ده، مګر د ګاونډیو اقتصادونو په پرتله چې ډېری یې لا هم د بیو د دوه رقمي لوړېدو شاهدان دي، په متوسطه کچه کې پاتې دی. د توکو د نړیوالو بیو کمښت، د داخلي عرضې په شرایطو کې ښه والی او د اسعارو په بیو کې ثبات د دې لامل شوی دی تر څو په هېواد کې د انفلاسیون له تموو سره مرسته وکړي.

## بې وزلي او د خوړو ناخوندیتوب

**د خوړو خوندیتوب د بې ثباته لاسته راوړنو تر څنګ لا هم د اقلیمي او او نفوس د ټکانونو له امله زیان منونکی دی.** د ۲۰۲۵ کال لپاره د افغانستان د غذایي خوندیتوب لیدلوری په ملي کچه ښه والی ښیي، مګر په وچو او د بېرته را ستنېدونکو کډوالو په کوربه ولایتونو کې لا هم دوامداره بې ثباتي موجوده ده. په داسې حال کې چې په ځینو ولایتونو کې د حاصلاتو د ښه والي راپور ورکړل شوی دی، مګر نور یې لا هم خوړو، د کار بازارونو او لومړنیو خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې له زیاتېدونکو فشارونو سره مخ دي.

## مالي ستونزې

**د عاید له پلوه په مالي وضعیت کې ښه والی راغلی دی، مګر له جوړښتي پلوه لا هم محدود پاتې دی.** اټکل کېږي چې د کورنیو مالیاتو عواید به په ۲۰۲۵ مالي کال کې د ناخالص کورني تولید ۱۷.۱ سلنې ته لوړ شي ، چې لامل یې د مالیاتي قوانینو پلي کول او د تطبیق د کچې د لوړلو لپاره د لا پیاوړو ګامونو پورته کول دي. سره له دې چې د بهرنیو مرستو کمېدل د مالي پوښښ د کمښت لامل شوی دی او افغانستان یې د سوداګریزو مالیاتو او تمویلوونکو پر ملاتړ متکي کړی دی. د طالبانو لنډمهاله اداره (ITA) چې د پور اخیستو لپاره عملي ظرفیت نلري، د پانګې د لګښتونو د تامین او عامه لومړنیو خدماتو د ساتنې په برخه کې له زیاتېدونکو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. د مالي ثبات

---

[1] یوناما راپور ورکوي چې په ټول افغانستان کې د ۲۰۲۵ د سپټمبر له ۲۹ مې څخه د اکتوبر تر ۱ نېټې پورې ۴۸ ساعتونو لپاره د انټرنټي او مخابراتي خدمتونو پرې کېدو ورځنی ژوند، لومړنیو خدمتونو او اقتصادي فعالیتونو ته لاسرسی په شدت سره ټکنی کړی و.

ساتل د عوایدو د زیاتېدو پر دوام او د لګښتونو په برخه کې د لومړیتوبونو په ټاکلو پورې اړه لري.

## د سوداګرۍ، اسعارو او پولي سکتور ثبات

**د کډوالو د بېرته را ستنېدو د فشار له امله بهرنۍ بې ثباتۍ لا زیاتېږي، ځکه چې سوداګریز جریانات او حوالې له دې شرایطو سره د سمون په حال کې دي.** د تادیاتو د توازن لیدلوری د زیانمنېدو د زیاتېدو لامل کېږي، ځکه اټکل کېږي چې د حساب جاري کسر به تر ۲۰۲۵ مالي کال پورې د ناخالص داخلي تولید نږدې یو پر درې برخه ته زیات شي. د بېرته را ستنېدونکو کډوالو له امله وارداتو ته د تقاضا کچې لوړېدل، بهر څخه د پیسو حواله جاتو د جریان کمېدل او د بهرنیو مرستو کمېدل پر بهرنیو اسعارو فشار راوړي. صادراتو ته له لا ډېر تنوع ورکولو او د دوامداره بهرني مالي تمویل پرته، دغه عوامل کولای شي د اسعارو بهرني ذخایر او د اسعارو د نرخ ثبات کمزوری کړي.

**پولي وضعیت د نغدو پیسو د شدید زیاتوالي او محدود مالي منځګړیتوب تر اغېز لاندې دی.** د نغدو پیسو کچه خورا لوړه شوې ده، ځکه چې د بهرنیو اسعارو ساتل زیات شوي او د بېرته را ستنېدونکو کډوالو له لوري نغدو پیسو ته تقاضا ډېره شوې ده. که څه هم د نغدو پیسو زیاتېدل بنه شوي دي، مګر زیاته برخه یې له رسمي بانکي سیستم څخه بهر په جریان کې دي چې د اعتماد د محدودیت او مالي منځګړي کمزوري په ګوته کوي. د بېرته را ستنېدونکو کډوالو د کچې لوړوالی او د انټرنټي او مخابراتي خدمتونو پرې کېدو پر نغدو پیسو د اقتصاد د تکیې ماهیت پیاوړی کړی دی او د مالي برخې عمق او شمولیت ته همدارنګه د پالیسو په تړاو یې اټکل ته اړتیا په ګوته کړې ده.

## اقتصادي لیدلوری او خطرونه

منځمهاله لیدلوری ورو وده او د هوساینې په برخه کې د وامداره ستونزو څرګندونه کوي. تمه کېږي چې د افغانستان اقتصاد به په اوسط ډول په ۲۰۲۶ مالي کال کې ۳.۸ سلنه او په ۲۰۲۷ مالي کال کې ۳.۵ سلنه وده وکړي چې ستر لامل به یې خصوصي لګښتونه او خدمات وي. د نفوس زیاتوالی، د پانګونې د کچې کمښت او مرستو او حوالو کمښت د سري سر عاید زیاتول محدودوي او د بې وزلۍ او زیان منېدو کچه لوړه ساتي. د دوامداره بهبود لپاره داسې اقداماتو ته اړتیا ده چې د خصوصي پانګونې کچه لوړه کړي، مالي منځګړی لا ژور او پیاوړی کړي، صادرات لا متنوع کړي او د بېرته را ستنېدونکو له لوري تقاضا پر تولیدي کاري فرصتونو بدله کړي.

## د پانګې بېرته را ستنېدو ساتنه – ستونزې او فرصتونه

**افغانستان دا مهال د بېرته را ستنېدونکو له یوې پراخې څپې سره مخ دی چې د دغه هېواد په معاصر تاریخ کې یې ساری نه لیدل کېږي، دا چاره د بېړنیو بشري ستونزو لامل شوې ده، همدارنګه که چېرته په سمه توګه مدیریت شي کېدای شي چې مهم منځمهاله تر اوږدمهاله فرصتونه هم له ځان سره ولري.**

د بېرته را ستنېدونکو د دې پراخې څپې لامل د ګاونډیو هېوادونو په پالیسیو کې بدلون دی او اټکل کېږي چې د ۲۰۲۳ کال د سپټمبر او ۲۰۲۵ کال د جولای میاشتو تر منځ شا و خوا ۴ تر ۴.۷ میلیونه کسان افغانستان ته را ستانه شوي دي. شا و خوا ۲.۲ میلیونه کسان یوازې د ۲۰۲۵ کال په لومړنیو اووه میاشتو کې را ستانه شوي وو، دا دوره د را ستنېدنې لپاره تر پخوانیو هغو ستونزمنه وه ځکه چې د هېواد اقتصاد د اقباض پر لور روان و او بهرنۍ نړیوالې مرستې هم کمې شوې وې.

## په ایران او پاکستان کې د افغانانو وضعیت

**د بېرته را ستنېدونکو ټولنیز-اقتصادي وضعیت د بدلون په حال کې او ډېر متنوع دی او د هغو کسانو تر منځ مهم توپیرونه موجود دي چې په ایران او پاکستان کې یې ژوند کړی دی.** هغه افغانان چې په ایران کې یې ژوند کاوه د وابستګۍ کچه یې کمه ده، په ۱۰۰ تنو د کار په عمر لویانو کې یوازې ۶۲ تنه وابسته دي، مګر په پاکستان کې ۱۳۰ تنه او په خپله په افغانستان کې ۱۰۴ تنه د کار په عمر لویان وابسته دي. د دغې ډلې کسانو د زده کړو کچه هم لوړه ده، له ۱۵ کلونو څخه د لوړ عمر لرونکو کسانو یو په درېیمه برخه کسان په منځنۍ یا لوړه کچه زده کړې لري. د کار په بازار کې یې هم پایلې پیاوړې دي، نارینه په مسلکي او له کرنې پرته کارونو کې لا ډېر مشارکت او تمرکز لري.

## د بېرته را ستنېدو وضعیت

**سره له دې چې احتمال لري افغانستان ته مسلکي کسان او مالي پانګې را ستنې شي، مګر اوسنی وضعیت د افغانستان د اقتصاد لپاره جدي خطرونه را منځته کولای شي.** لومړی، په لوړه کچه بېرته را ستنېدل د کار په سیمه ییزو بازارونو او عامه خدماتو کې د جذب ظرفیت له ستونزې سره مخ کوي، په ځانګړې توګه په زیان منونکو ساحو کې. تر اوسه پورې راستنیدونکي په ځانګړي ډول

زیان منونکي پروفایل لري، په کوربه هېوادونو کې د افغانانو عمومي اتباعو سره په پرتلې ډېری نارینه چې بېرته را ستانه شوي دي، رسمي لوړې زده کړې نلری.

### د کړکېچ بدلول په ستراتېژیک فرصت

**پر یوه ستراتېژیک فرصت د دغه کړکېچ د بدلولو لپاره یوه داسې همغږې غبرګون ته اړتیا ده چې بشري عاجلو اړتیاوو ته له پراختیایي موخو او له منځمهاله تر اوږدمهاله سولې سره تړاو ورکړي.** د افغانستان، ایران او پاکستان ساسیتونه کولای شي په بنسټیز ډول د بېرته را ستنېدونکو کډوالو د وضعیت د بدلون او د هغوی د بریالیتوب لامل شي. یوه اوږدمهاله ستراتېژي باید بېرته را ستنیدونکي کډوال نه یوازې د مرستو د ترلاسه کوونکو، بلکې د اقتصاد په برخه کې د فعالو ونډه اخیستونکو په توګه وپېژني.

په کلیدي اقداماتو کې باید په بهر کې د ترلاسه شوې پانګې د را لېږدولو او د مهارتونو د تصدیق لپاره میکانیزمونه شامل وي. پر دې سربېره، مالي ملاتړ ته د کوچنیو اعتباراتو له لارې لاسرسی موندل او د کار او بار د ودې لپاره پروګرامونه مسلکي کسانو ته دا وړتیا ورکوي چې خپل کاروبارونه ایجاد کړي او دندې را منځته کړي. افغانستان کولای شي د کډوالو په فعاله مشارکت او د بېرته را ستنېدونکو کسانو پر ظرفیتونو په پانګونې سره له دې ستونزې څخه د یوه فرصت په توګه استفاده وکړي او ملي احیا پیاوړې کړي.

## ۱ جدول. د افغانستان مشخص اقتصادي او مالي شاخصونه (۲۰۲۰–۲۰۲۷)

| **مالي کال** | **2020 حقیقي** | **2021 حقیقي** | **2022 حقیقي** | **2023 حقیقي** | **2024 اټکل** | **2025 وړاندوینه** | **2026 وړاندوینه** | **2027 وړاندوینه** |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عرضه | | | | د بدلون سلنه | | | | |
| کرنه | 5.9 | 9.8 | -6.6 | 2.2 | 0.5 | 2.2 | 3.2 | 3.2 |
| صنعت | -5.9 | -12.8 | -5.7 | 1.8 | 2.1 | 4.1 | 4.5 | 4.3 |
| خدمتونه | 4.6 | -9.4 | -2.8 | 2.6 | 3.3 | 3.9 | 4.0 | 4.1 |
| ناخالص داخلي تولید | -2.4 | -20.7 | -2.6 | 2.5 | 2.5 | 3.5 | 3.8 | 3.5 |
| کورني نرخونه | | | | د بدلون سلنه | | | | |
| د مصرفوونکي نرخونه (کلنی اوسط) | 5.6 | 7.8 | 10.6 | -7.7 | -4.3 | 2.0 | 3.0 | 4.0 |
| د اسعارو بیې (کلنی اوسط) | 76.9 | 87.7 | 88.5 | 77.3 | 70.3 | 71.0 | | |
| مالي | | | | د اسمي کورني ناخالص تولید سلنه | | | | |
| عواید او مرستې | 49.4 | 36.5 | 40.6 | 33.9 | 30.7 | 29.1 | 29.0 | 28.7 |
| کورنی عواید | 11.0 | 12.0 | 14.1 | 14.0 | 14.3 | 14.1 | 14.1 | 14.1 |
| بهرنۍ مرستې | 38.1 | 24.4 | 26.5 | 19.9 | 16.4 | 15.0 | 14.9 | 14.7 |
| ټولیز لګښتونه | 28.0 | 31.3 | 25.1 | 24.6 | 23.5 | 23.0 | 22.8 | 22.6 |
| عادي لګښتونه | 17.4 | 18.4 | 15.3 | 15.5 | 15.9 | 15.3 | 15.1 | 15.0 |
| د داخلي تمویل د پراختیایي لګښتونه | 0.3 | 0.1 | 0.3 | 0.3 | 0.3 | 0.3 | 0.3 | 0.3 |
| د بهرني تمویل لرونکي لګښتونه | 10.3 | 12.8 | 9.5 | 8.8 | 7.3 | 7.3 | 7.4 | 7.3 |
| ITA مالي بیلانس | -2.3 | 0.5 | -1.0 | -1.2 | -0.4 | 0.0 | 0.1 | 0.1 |
| عمومي مالي بیلانس (له بودیجې بهر لګښتونو په ګډون) | -2.3 | 0.0 | -5.0 | -10.0 | -4.0 | 0.0 | 0.1 | |
| **د تادیاتو بیلانس** | | | | | | | | |
| د حساب اوسنی بیلانس | -21.6 | -15.8 | -18.8 | -17.6 | -24.6 | -24.1 | -24.1 | -24.1 |
| د سوداګرۍ بیلانس (توکي او خدمتونه) | -39.1 | -34.8 | -45.0 | -43.4 | -45.8 | -48.9 | -51.8 | -52.9 |
| لومړنۍ او ثانوي عواید | 17.5 | 19.0 | 26.2 | 26.8 | 21.2 | 24.8 | 26.0 | 28.7 |
| **د یادښت توکي** | | | | | | | | |
| واقعي ناخالص داخلي تولید (ثابت 2015 په ډالر) | 20,622 | 16,345 | 15,325 | 15,673 | 16,061 | 16,245 | 17,347 | 17,794 |
| اسمي ناخالص داخلي تولید (میلیون ډالر) | 19,956 | 14,666 | 14,502 | 17,476 | 20,685 | 21,633 | 22,560 | 23,353 |
| نفوس (میلیون) | 39.1 | 40.0 | 40.6 | 40.5 | 41.2 | 41.6 | 42.0 | 42.4 |
| سړي سر ناخالص داخلي تولید (واقعي 2015 په ډالر) | 527.8 | 408.6 | 377.7 | 378.1 | 376.6 | 361.5 | 362.4 | 366.1 |

سرچینې: د طالبانو انتقالي اداره (د احصایې او معلوماتو ملي اداره، د مالیې وزارت، مرکزي بانک، د سوداګرۍ او صنعت وزارت)؛ او د نړیوال بانک اټکلونه او وړاندوینې.